د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیــکه خپرونه

لومړی پړاو - اوولسمه ګڼه

۱۴۴۷-۰۶-۲۷

- په رسمي بلنه هند هېواد ته د عامې روغتیا وزیر سفر!
- د روغتیا نړیوال سازمان له مشر سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- د یو پلاوي په مشرۍ ایران ته د خوړو او درملو مرستیال سفر!
- د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ بورډ شلمه ناسته ترسره کېدل!
- هلمند کې د یو روغتیایي مرکز د ترمیم او بیا رغونې چارو بشپړېدل

د ویاند دفتر، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست





## د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د متحده عربي اماراتو سفير ښاغلي سيف محمد الکتبي سره ليدنه تر سره کړه

په دې ليدنه کې نوي سفير ته د ښه راغلاست ويلو تر څنګ په روغتيايي برخه کې د متحده عربي اماراتو له لورې د مور او ماشوم لپاره د لس روغتيايي مراکزو جوړولو ، هرات ولايت ته د هيموډياليز ماشينونو سپارلو ، جوزجان او فارياب ولايتي روغتونو ته د درملو پر همکارۍ ،د کابل شيخ زايد تخصصي روغتون روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړونې، پکتيا ولايت کې د نوي روغتون جوړولو ، د پوليو ناروغۍ لپاره د ګډو هڅو او د دواړو هېوادونو ترمنځ په روغتيايي برخه کې د دوامداره همکاريو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په روغتيايي برخه کې د متحده عربي اماراتو له دوامدارې همکارۍ مننه وکړه او په يو شمېر مهمو برخو کې يې د دوی همکارۍ اړينه وبلله، ښاغلي وزير د 318 روغتونو لپاره د عصري طبي تجهيزاتو برابرولو ، د پوليو په له منځه وړلو ، د غير ساري ناروغيو په تشخيص او درملنه ، د کابل شيخ زايد روغتون کې د راډيولوژۍ اړوند تجهيزاتو برابرولو او ځينې نورو اړينو تخصصي برخو کې د ظرفيت لوړونې او اړينو همکاريو اړوند غوښتنې وکړې.

له بل لورې، د متحده عربي اماراتو نوي سفير د روغتيا سکتور کې خپلو دوامداره همکاريو ته په اشارې د پوليو او ساري ناروغيو ،د کنټرول برخه کې د بشپړې همکارۍ او مرستې ډاډ څرګند کړ او زياته يې کړه مونږ ژمن يو چې د عامې روغتيا وزارت سره همکارۍ ته دوام ورکړو.













د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي د ناروغانو(EMR) الکترونيکي روغتيايي ريکارډ او د هيواد په ټولو روغتونو کې د توصيه کيدونکو روغتيايي درملنو د الکترونيکي ثبت او تجويز کيدو په موخه د وزارت له اړونده مسؤولينو او ځينې تخنيکي اشخاصو سره ناسته تر سره کړه

محترم قاری عبدالولی صدیقی، معین مالی و اداری وزارت صحت‌عامه ا.ا.ا، به منظور ایجاد سیستم ثبت صحی الکترونیکی(EMR) برای مریضان و ثبت و تجویز الکترونیکی تداوی‌های صحی توصیه‌شده در تمام شفاخانه‌های کشور، با مسوولان مربوط وزارت و برخی افراد تخنیکی نشستی را برگزار کرد

په دې ناسته کې چې د مالي او اداري چارو مرستيال ښاغلي قاري عبدالولي صديقي، د اکمال تخصص لوی رئيس ډاکټر نثار احمد نيازي د معالجوي طب لوی رئيس ډاکټر وحدت الکوزي او يو شمير نورو مسؤولينو شتون درلود ، د سيستم الکترونيکي کيدو په موخه د تخنيکي اشخاصو بيلا بيل نظريات واوريدل شول ، همدارنګه د سيستم د غوره تطبيق پر وړاندې د شته خنډونو ، حل لارو ، امکاناتو او د پلي کيدو لپاره د اسانتياوو را منځته کولو اړوند بحث او خبرې تر سره شوې.

ښاغلي مرستيال وويل ، هڅه يې د خدماتو شفافيت ، د کارونو اسانتيا او د ولسونو او ناروغانو لپاره د معياري الکترونيکي ريکارډ را منځته کول دي تر څو هر څوک هر ځای ترې استفاده وکړي او په روغتيايي خدماتو کې مثبت بدلون ومونډل شي.

این نشست که با حضور محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری، داکتر نثار احمد نیازی رئیس عمومی اکمال تخصص، داکتر سید رسول منگل رئیس عمومی پلان و پالیسی ، داکتر وحدت الکوزی رئیس عمومی طب معالجوی و شماری از مسوولان دیگر برگزار گردید، دیدگاه‌های مختلف تخنیکی در مورد سیستم الکترونیکی شنیده شد، روی چالش‌ها، راه‌های حل، امکانات موجود و ایجاد سهولت‌ها برای تطبیق بهتر این سیستم، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم معین مالی و اداری گفت که هدف از این روند، شفافیت در ارائه خدمات، تسهیل امور و ایجاد سیستم معیاری ثبت الکترونیکی برای مردم و بیماران است تا در هر مکان از آن استفاده صورت گیرد و تغییرات مثبت در ارائه خدمات صحی ایجاد گردد.

Deputy Minister for Finance and Administration of the Ministry of Public Health, Qari Abdul Wali Siddiqi, held a meeting with relevant officials of the ministry and several technical experts to discuss the establishment of an electronic medical record (EMR) system for patients, as well as the electronic recording and prescribing of recommended treatments across all hospitals in the country.

The meeting, attended by Qari Abdul Wali Siddiqi, Deputy Minister for Finance and Administration; Dr. Nisar Ahmad Niazi, Director General for Speciality Program; Dr. Sayed Rasoul Mangal, Director General of Planning and Policy; Dr. Wahdat Alokozai, Director General of Curative Medicine; and a number of other officials, reviewed various technical perspectives on the electronic system. Participants discussed the key challenges, potential solutions, available resources, and measures to ensure smoother implementation of the system.

The Deputy Minister for Finance and Administrative Affairs stated that the purpose of this initiative is to enhance transparency in service delivery, simplify procedures, and create a standardised electronic record system for the public and for patients — one that can be used anywhere and will bring about meaningful improvements in healthcare provision.



## هلمند کې د یو روغتیایي مرکز د ترمیم او بیا رغونې چارې بشپړې شوې

## کار ترمیم و بازسازی یک مرکز صحی در ولایت هلمند تکمیل شد

د هلمند ولایت عامې روغتیا رئیس، الحاج ډاکټر نقیب الله فاتح په هڅو د افغان ځوانانو خدماتي مؤسسې له لوري د بغني ولسوالۍ روغتیایي مرکز د ترمیم چارې د 342 زره او 992 افغانیو په لګښت بشپړې شوې.

د هلمند عامې روغتیا رئیس، د بغني ولسوالۍ له روغتیایي کارکوونکو وغوښتل، چې ناروغانو ته پر وخت او باکیفیته خدمات وړاندې کړي، هغه زیاته کړه، د ناروغانو رضایت د خدماتو د کیفیت ښکارندوی دی او دا زموږ د مسلکي مسؤلیت یوه مهمه برخه ده.

دغه راز، د سیمې اوسېدونکو د ودانۍ په ترمیم خوښي وښوده او دا چاره یې د روغتیایي خدماتو د کیفیت لوړولو او ناروغانو ته د لا ډېرو اسانتیاوو برابرولو لپاره یو ښه ګام وباله.

به اثر تلاش‌های الحاج داکتر نقیب‌الله فاتح، رئیس صحت‌عامه ولایت هلمند، کار ترمیم مرکز صحی ولسوالی بغنی توسط مؤسسه خدماتی جوانان افغان، با هزینه 342 هزار و 992 افغانی تکمیل گردید.

رئیس صحت‌عامه هلمند، از کارمندان صحی این مرکز خواست تا به بیماران خدمات صحی به موقع و با کیفیت را ارائه نمایند. وی افزود که رضایت بیماران نشان‌دهنده کیفیت خدمات است و این یک بخش مهم از مسؤولیت های مسلکی ما محسوب می‌شود.

همچنان، باشنده گان محل از بازسازی این ساختمان ابراز خوشحالی نموده و این اقدام را یک گام مؤثر برای ارتقاء کیفیت خدمات صحی و فراهم‌سازی سهولت‌های بیشتر برای بیماران دانستند.

## Renovation of Baghni District Health Center Completed in Helmand Province

Through the efforts of the Director of Public Health of Helmand Province, Al-Hajj Dr. Naqibullah Fateh, the Afghan Youth Service Organization completed the renovation of the Baghni District Health Center at a cost of 342,992 Afghanis.

The Director of Public Health urged health workers in Baghni District to provide timely and high-quality services to patients, emphasizing that patient satisfaction is a key indicator of service quality and an essential part of their professional responsibility.

Residents welcomed the renovation of the facility, considering it a positive step toward improving healthcare quality and enhancing the services and facilities available to patients.

 

## د جوزجان ولایت د قرقین ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس ډاکتر محمد یونس غالب، د اداري، ولایتونو د همغږۍ ریاستونو او د 14 ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه.

د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس، محمد یونس غالب وویل: (دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په دقیق او ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به یې له چارو څخه نظارت هم کوو).

بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به د روغتون د جوړېدو چارې ترسره کوي.
د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت د هېواد په 318 ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د یادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.

## پروسه آفر گشایی ساخت شفاخانه عمومی ولسوالی قرقین ولایت جورجان برگزار شد

این پروسه با حضور محمد یونس غالب رئیس تدارکات وزارت صحت عامه، نمایندهگان ریاست‌های اداری، هماهنگی ولایات و نمایندهگان 14 شرکت ساختمانی برگزار گردی.

در نشستی که به این مناسبت برگزار شد محمد یونس غالب رئیس تدارکات وزارت صحت‌عامه گفت: « این پروسه از شفافیت کامل برخوردار بوده و ما از شرکتی که برنده می‌شود خواهان کار بهتر و دقیق به وقت و زمان آن مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه را خواهانیم، چون این پروژه عام المنفعه بوده و ما از جریان کار آن نظارت خواهیم کرد.

از سوی‌هم نمایندهگان شرکت های ساختمانی، وعده سپردند که در صورت برنده شدن در پروسه آفر گشایی، مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه عمل خواهند کرد.
قابل یاد آوری است که کار پروسه تدارکاتی ایجاد شفاخانه های عمومی نظر به پلان وزارت صحت‌عامه در 318 ولسوالی کشور ادامه دارد.

## Bid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Qarqin District of Jowzjan Province

Mohammad Younis Ghalib, Director of Procurement at the Ministry of Public Health, representatives from the Administrative and Provincial Coordination Directorates, and delegates from 14 construction companies.
Dr. Mohammad Younis Ghalib stated, “This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation.”
The construction company representatives pledged that, if they take over the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work.
It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.



## د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت له لوري د نري رنځ (TB) د کنټرول ملي پروګرام د بياکتنې او ارزونې غونډه ترسره شوه

دا غونډه چې موخه يې د نري رنځ د کنټرول ملي پروګرام د تېرو فعاليتونو او لاسته راوړنو ارزونه، د نيمګړتياوو او ستونزو حل، د راتلونکو پنځه کلونو لپاره د ملي ستراتيژيک پلان بياکتنه، اصلاح او د درېو کلونو لپاره د ځانګړې بوديجې ترلاسه کول و، په کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وقايوي طب لوی رئيس ډاکټر حيدر خان حيدر، د اړوند رياست مسؤلينو، روغتيا نړيوال سازمان استازو او د نري رنځ د کنټرول ملي پروګرام تخنيکي ارزونکو ګډون درلود.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د نري رنځ ملي پروګرام له تخنيکي ارزونکو څخه مننه وکړه او ويې ويل، دا ارزونه زموږ لپاره يو فرصت دی، چې شته نيمګړتياوې او ستونزې په نښه او ورته لازمي حل لارې ومومو.

ښاغلي مرستيال زياته کړه، دا ډول ارزونې د نري رنځ د کنټرول او اصلاح لپاره بنسټيز ارزښت لري او موږ ستاسې مسلکي قضاوت او علمي ليد ته په درنه سترګه ګورو.

همدارنګه، د عامې روغتيا وزارت د وقايوي طب لوی رئيس، ډاکټر حيدر خان حيدر له نړيوالو او داخلي تخنيکي همکارانو څخه مننه وکړه او د شته ستونزو پر حل او ګډو همکاريو يې ټينګار وکړ؛ تر څو ستونزې حل او د نري رنځ ساري ناروغي په بشپړ ډول کنټرول شي.

بل لور د تخنيکي ارزونې ټيم او روغتيا نړيوالو سازمان استازو هم په ياده برخه کې خپل نظرونه او معلومات شريک کړل او هم يې په دغه برخه کې د خدماتو ښه والي په موخه يو شمېر وړانديزونه وکړل.

## وزارت صحت‌عامه ا.ا.ا، نشست بازنگری و ارزیابی برنامه ملی کنترول توبرکلوز (TB) را برگزار کرد

هدف از این نشست، ارزیابی فعالیت‌ها و دستاوردهای گذشته برنامه ملی کنترول توبرکلوز، شناسایی چالش‌ها و نواقص، بازنگری و اصلاح پلان استراتیژیک ملی برای پنج سال آینده و تأمین بودجه مشخص برای سه سال آینده بود.

در این نشست، محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، داکتر حیدر خان حیدر، رئیس عمومی طب وقایوی، مسوولان مربوطه، نماینده گان سازمان صحی جهان و ارزیابی کننده گان تخنیکی برنامه ملی کنترول توبرکلوز اشتراک داشتند.

محترم معین عرضه خدمات صحی، ضمن قدردانی از ارزیابی کننده گان تخنیکی این برنامه، گفت: « این ارزیابی برای ما یک فرصت مهم است تا مشکلات و کاستی‌های موجود را شناسایی و راه حل‌های مناسب برای آن‌ها پیدا نماییم. این‌گونه ارزیابی‌ها برای اصلاح و کنترول مؤثر بیماری توبرکلوز ارزش بنیادی دارد و ما به قضاوت مسلکی و دیدگاه علمی شما با دیده احترام می‌نگریم.

همچنان، داکتر حیدر خان حیدر رئیس عمومی طب وقایوی وزارت صحت عامه، از همکاری‌های تخنیکی داخلی و بین‌المللی ابراز سپاس نموده و بر حل چالش‌های موجود و تقویت همکاری‌های مشترک تأکید نمود تا با تلاش‌های هماهنگ، بیماری ساری توبرکلوز به‌گونه کامل کنترول گردد.

از سوی‌هم، تیم ارزیابی تخنیکی و نماینده گان سازمان صحی جهان نیز نظریات و معلومات خود را در این زمینه شریک ساختند و پیشنهاداتی را نیز به‌منظور بهبود خدمات در بخش کنترول توبرکلوز ارائه نمودند.

## Afghanistan's Ministry of Public Health Holds Review and Evaluation Meeting of the National Tuberculosis Control Programme

Afghanistan's Ministry of Public Health convened a review and evaluation meeting of the National Tuberculosis (TB) Control Programme, assessing the programme's past activities and achievements, addressing gaps and operational challenges, revising the national strategic plan for the next five years, and securing a dedicated budget for the coming three years. The session brought together Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Director General of Preventive Medicine, Dr. Haider Khan Haider, relevant directorate officials, technical evaluators of the TB programme, and representatives from the World Health Organization (WHO).

Deputy Minister Haqqani thanked the technical evaluators of the National Tuberculosis (TB) Programme and emphasized that this assessment provides a valuable opportunity to identify existing gaps and challenges and to find appropriate solutions. He highlighted that such evaluations are crucial for the control and improvement of TB and underscored the Ministry's respect for their professional judgment and scientific expertise.



## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې افغانستان لپاره د روغتیا نړیوال سازمان له مشر، ښاغلي ایډوین سینیزا سلاوډور، د دې سازمان د مرکزي او سیمه‌ییز دفتر د توبرکلوز (نري رنځ) برخې له مسؤلینو سره لیدنه تر سره کړه

په دې لیدنه کې د توبرکلوز برخې د خدماتو د پیاوړتیا، روغتیايي مرکزونو ته د نري رنځ په برخه کې د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو، ناروغانو ته د معیاري او پر وخت خدماتو وړاندې کولو، د خدماتو د لا ښه والي لپاره د بودجې د زیاتوالي، د تشخیص او درملنې د بهیر د اغېزمنتیا او د روغتیايي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په اړه هر اړخیز بحثونه او خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتیا نړیوال سازمان له مشر او مل پلاوي څخه د دوامدارو همکاریو له کبله مننه وکړه او ویې ویل: (د نري رنځ ناروغۍ مخنیوی او درملنه د عامې روغتیا وزارت له لومړیتوبونو څخه ده او موږ هڅه کوو، چې د نړیوالو همکارو بنسټونو په ملاتړ، د هېواد ټولو اوسېدونکو ته معیاري روغتیايي خدمات ورسول شي).

ښاغلي وزیر زیاته کړه، د روغتیا نړیوال سازمان همکاري د روغتیايي نظام د پیاوړتیا، د ناروغیو د کنټرول او د عامې روغتیا پروګرامونو د ښه والي لپاره خورا مهمه ده.

بل لور ته د روغتیا نړیوال سازمان مشر او د توبرکلوز برخې نړیوالو مسؤلینو خپلو دوامداره همکاریو ته په اشارې د نري رنځ ناروغۍ پر وړاندې مبارزې، د خدماتو د پراختیا او د عامې روغتیا وزارت سره د بشپړې همکارۍ او پاملرنې ډاډ ورکړ.

## محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه ا.ا.ا، با محترم ادوین سینیزا سلاوډور، رئیس سازمان صحی جهان برای افغانستان، و مسئولان مرکزی و ساحوی بخش توبرکلوز (سل) این سازمان در دفتر کارش دیدار کرد

در این دیدار، در مورد تقویت خدمات بخش توبرکلوز، فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر در مراکز صحی برای تداوی بیماری سل، ارایه خدمات معیاری و به‌موقع به بیماران، افزایش بودجه برای بهبود خدمات، مؤثریت روند تشخیص و تداوی و ارتقاء ظرفیت کارمندان صحی، بحث و تبادل نظر همه‌جانبه صورت گرفت.

محترم مولوی نور جلال جلالی، از همکاری‌های دوامدار سازمان صحی جهان ابراز قدردانی نموده گفت: « پیش‌گیری و تداوی بیماری سل از اولویت‌های وزارت صحت‌عامه می‌باشد و ما تلاش داریم با حمایت نهادهای همکار بین‌المللی، خدمات صحی معیاری را به تمام شهروندان کشور برسانیم.

همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه افزود که همکاری سازمان صحی جهان برای تقویت نظام صحی، کنترول امراض و بهبود برنامه‌های صحی عامه، از اهمیت بالایی برخوردار است.

از سوی‌هم، رئیس سازمان صحی جهان برای افغانستان و مسوولان بین المللی بخش توبرکلوز، بر ادامه همکاری‌های‌شان تأکید نموده، اطمینان دادند که در مبارزه با بیماری سل، توسعه خدمات و حمایت کامل از وزارت صحت‌عامه، همکاری‌شان را ادامه خواهند داد.

## The Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, H.E. Mawlawi Noor Jalali Jalali, held a meeting in his office with the Head of the World Health Organization (WHO) for Afghanistan, Dr. Edwin Ceniza Salvador, along with officials from the Tuberculosis (TB) departments of the organization's headquarters and regional offices.

Comprehensive discussions were held on strengthening tuberculosis services, providing additional facilities to health centers for TB care, delivering timely and high-quality services to patients, increasing the budget to improve services, enhancing the effectiveness of the diagnosis and treatment process, and building the capacity of health workers.

H.E. Mawlawi Noor Jalali Jalali thanked the Head of the World Health Organization and the accompanying delegation for their continued cooperation and stated:

"Prevention and treatment of tuberculosis are among the priorities of the Ministry of Public Health, and we are striving, with the support of international partner organizations, to deliver standard health services to all residents of the country."

The Minister added that the cooperation of the World Health Organization is highly important for strengthening the health system, controlling diseases, and improving public health programs.

The Head of the World Health Organization and the international officials of the Tuberculosis Department, referring to their continued cooperation, assured their full cooperation and commitment to the Ministry of Public Health in combating tuberculosis and expanding services.



## د عامې روغتيا وزارت له لوري د ارزګان ولايتي روغتون د بېړنيو ناروغانو څانګې د پراخېدو چارې پيل شوې دي

يادې چارې د 10 ميليونه افغانيو په لګښت پيل شوې، چې موخه يې د بېړنيو ناروغانو لپاره د خدمتونو ښه کول، د ناروغانو د منلو ظرفيت لوړول او پر وخت طبي مرستو ته اسانه لاسرسی برابرول دي.

د ارزګان د عامې روغتيا مسؤلينو په وينا، د دې روغتون په پراخېدو سره به ناروغانو ته ګڼې اسانتياوې رامنځته شي، د درملنې بهير به چټک او د بېړنيو پېښو پر مهال به خلکو ته معياري روغتيايي خدمات وړاندې کېږي.

## وزارت صحت‌عامه کار توسعه بخش عاجل شفاخانه ولایتی ارزگان را آغاز کرد

این پروژه با هزینه 10 میلیون افغانی به هدف بهبود خدمات صحی برای بیماران عاجل، افزایش ظرفیت پذیرش بیماران و فراهم سازی دسترسی سریع و آسان به کمک‌های عاجل طبی راه‌اندازی شده است.

مسوولان ریاست صحت‌عامه ارزگان می‌گویند که، با توسعه این بخش، سهولت‌های بیشتری برای بیماران فراهم خواهد شد، روند تداوی تسریع می‌یابد و در مواقع اضطراری، خدمات صحی معیاری برای مردم ارائه خواهد شد.

## The Ministry of Public Health has launched an infrastructure expansion project to upgrade the Emergency Ward at Uruzgan Provincial Hospital.

The project, initiated with a budget allocation of 10 million Afghanis, focuses on enhancing emergency medical services, increasing the hospital's patient intake capacity, and ensuring timely access to critical care for individuals requiring urgent treatment.

According to Uruzgan public health authorities, the expansion will introduce multiple clinical facilities, streamline the patient treatment workflow, and enable the provision of standardized emergency healthcare services, ensuring improved medical responsiveness and better health outcomes for the community during emergencies.



## عامې روغتیا وزارت له لوري د بدخشان ولایتي روغتون ظرفیت له 120 بسترونو څخه 250 بسترونو ته لوړ شو

د بدخشان د عامې روغتیا مرستیال، نذیر احمد نذر وویل، د دې روغتون په پراخېدو سره موږ کولای شو ګڼې تخصصي برخې فعالې کړو، چې په کې د غوږ، پوزې او ستوني، سترګو، ارتوپیدي، جلدي، د اعصابو جراحي، د سوځېدنې او رواني روغتیا څانګې شاملې دي.

همدارنګ، د ولایتي روغتون رئیس، ډاکټر شفیق همدرد وویل، چې د ظرفیت له لوړولو وړاندې یاد روغتون له جدي ستونزو سره مخ و او د بسترونو د کموالي له امله به ځینې ناروغان د تخصصي درملنې لپاره نورو ولایتونو، په ځانګړي ډول کندز ولایت ته استول کېدل، چې اوس به دا ستونزه حل او ناروغانو ته به ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي).

دغه راز، د بدخشان اوسېدونکو د روغتون له ظرفیت لوړولو هرکلی وکړ او هیله یې وښوده، چې له دې سره به د روغتیایي خدمتونو کیفیت لا ښه شي.

د یادونې وړ ده، چې د بدخشان ولایتي روغتون د یاد ولایت په کچه یوازینی مجهز روغتون دی، چې هره ورځ ورته سلګونه ناروغان، په ځانګړي ډول له لرې پرتو ولسوالیو مراجعه کوي او اړین روغتیایي خدمتونه ورته وړاندې کېږي.

## وزارت صحت‌عامه ظرفیت شفاخانه ولایتی بدخشان را از 120 بستر به 250 بستر افزایش داد

نذیر احمد نذر، معاون ریاست صحت‌عامه بدخشان گفت که با ازدیاد بستر در این شفاخانه، ما می‌توانیم بخش‌های تخصصی بیشتری را فعال نماییم، که شامل گوش گلو، بینی، چشم، ارتوپیدی، جلدی، جراحی اعصاب، سوختگی و صحت روانی می باشد.

همچنان، داکتر شفیق همدرد، رئیس شفاخانه ولایتی بدخشان اظهار داشت که، قبل از افزایش ظرفیت، این شفاخانه با چالش های جدی مواجه بود و به دلیل کمبود بستر، برخی بیماران برای تداوی تخصصی به ولایات دیگر، به‌ویژه قندز فرستاده می‌شدند، اما اکنون این مشکل حل شده و سهولت‌های بیشتری برای بیماران فراهم خواهد شد.

از سوی‌هم، باشنده‌گان بدخشان، از ازدیاد بستر در این شفاخانه استقبال نموده ابراز امیدواری کردند که با این اقدام، کیفیت خدمات صحی نیز بهبود یابد.

قابل یادآوری است که، شفاخانه ولایتی بدخشان، یگانه شفاخانه مجهز در سطح این ولایت می‌باشد که روزانه صدها بیمار، به‌ویژه از ولسوالی‌های دور دست، به آن مراجعه نموده و خدمات صحی مورد نیاز را دریافت می کنند.

## Ministry of Public Health Expands Bed Capacity of Badakhshan Provincial Hospital from 120 to 250

Nazir Ahmad Nazar, Deputy Director of Public Health of Badakhshan, stated that with the expansion of the hospital, it will be possible to activate several specialized departments, including ENT, ophthalmology, orthopedics, dermatology, neurosurgery, burn services, and mental health departments.

The Director of the Provincial Hospital, Dr. Shafiq Hamdard, stated that prior to the expansion, the hospital faced serious challenges, and due to a shortage of beds, some patients were referred to other provinces, particularly Kunduz Province, for specialized treatment. He added that this issue has now been resolved and that numerous facilities will be provided for patients.

Residents of Badakhshan welcomed the expansion of the hospital's capacity and expressed hope that it would further improve the quality of health services.

Notably, Badakhshan Provincial Hospital is the only well-equipped hospital in the province, where hundreds of patients—particularly from remote districts—seek care daily and receive essential health services.





## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د درملو اړوند عمده پلورونکو ، توريدي شرکتونو او درملتونونو د اتحاديو له مسؤولينو سره ليدنه تر سره کړه

په دې لیدنه کې چې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال ښاغلي مولوي حمدالله زاهد او يو شمير نورو مسؤولينو شتون درلود، د درملو د نرخونو پر کنټرول، د احتکار څخه د مخنیوي ډاډ او په بازار کې د با کیفیته درملو په شتون او مدیریت خبرې تر سره شوې.

ښاغلي وزیر ولسونو ته د با کيفيته او په مناسب قيمت د درملو عرضه کول د ټولو ګډ مسؤوليت وګاڼه او په وينا يې په دې برخه کې بايد ټول ګډ مسؤوليت اداء کړي ، ښاغلي وزير وويل د افغانستان بازار اوس يواځې په يو ځای نه دی تکيه، نو هڅه کوو چې د درملو برخه کې شته ستونزې حل او د با کيفيته درملو لپاره په بديلو لارو کار وکړو، بل لور ته د اتحاديو مسؤولينو د هغه بهرنيو افواهاتو اړوند وويل چې ګواکې په مارکيټ کې د درملو کمښت دی يا ستونزې را منځته شوي، دوی دا خبرې بې بنياده او د ځينې بهرنيو تبليغاتي کړيو له لوري تبليغاتي هڅه وبلله، نوموړو مسؤولينو وويل اوس مهال په بازار کې په کافي اندازه درمل شتون لري، چې لا له کومې لويې ستونزې سره نه دي مخ شوي او تر ډيره ولس ته ډاډ ورکوو چې د درملنې لپاره به د درملو له کمښت سره نه مخ کيږي، د مجلس په جريان کې ښاغلي مرستيال حمدالله زاهد د نظارتي ټيمونو د هڅو او کړنو يادونه وکړه او و يې ويل په دې برخه کې به مو هڅې لا جريان ولري تر څو وکولای شو په مناسب قيمت با کيفيته درملو ته د ټولو لاسرسی جاري وساتو.

## محترم مولوی نورجلال جلالی وزیرصحت‌عامه ا.ا.ا، با مسوولان اتحادیه‌های عمده فروشی ادویه، شرکت‌های وارداتی و دواخانه‌ها در دفتر کارش دیدار کرد

در این دیدار که، محترم مولوی حمدالله ذاهد معین غذا و ادویه وزارت صحت‌عامه و شماری از مسوولان دیگر نیز اشتراک داشتند، در مورد کنترول قیمت ادویه، جلوگیری از احتکار و مدیریت دسترسی به ادویه های با کیفیت در بازار بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم وزیرصحت‌عامه، عرضه ادویه های با کیفیت و قیمت مناسب به مردم را مسئولیت مشترک همه دانست و گفت: بازار ادویه در افغانستان دیگر فقط به یک منبع متکی نیست، ما تلاش داریم تا مشکلات موجود را حل و برای تأمین ادویه های با کیفیت از راه‌های بدیل استفاده کنیم. از سوی‌هم، مسوولان اتحادیه‌ها، شایعات برخی رسانه‌های خارجی مبنی بر کمبود ادویه در بازار را بی‌اساس خواندند و گفتند که این تبلیغات از سوی برخی حلقات خارجی پخش می‌شود، در حالی‌که در حال حاضر ادویه به مقدار کافی در بازار وجود دارد و با مشکل جدی مواجه نیستیم. آن‌ها به مردم اطمینان دادند که ادویه به‌صورت دوامدار موجود خواهد بود.

در جریان این نشست، محترم مولوی حمدالله ذاهد نیز از تلاش‌های تیم‌های نظارتی یادآوری نموده گفت: که نظارت‌ها ادامه خواهند داشت تا دسترسی مردم به ادویه های با کیفیت و قیمت مناسب تضمین گردد

## The Minister of Public Health of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali, held a meeting in his office with representatives of major pharmaceutical wholesalers, importing companies, and pharmacy unions.

The meeting was attended by the Deputy Minister for Food and Drugs of the Ministry of Public Health, Mawlawi Hamdullah Zahid, along with a number of other officials. Discussions focused on controlling medicine prices, preventing hoarding, and ensuring the availability and proper management of quality medicines in the market.

His Excellency Jalali described the supply of high-quality medicines at reasonable prices as a shared responsibility, stressing that all stakeholders must fulfil their role in this regard. He said Afghanistan's market is no longer dependent on a single source, adding that efforts are underway to address existing challenges in the pharmaceutical sector and to explore alternative routes for the supply of quality medicines.

Meanwhile, representatives of the unions rejected what they described as foreign rumours suggesting a shortage of medicines or emerging problems in the market. They said such claims were unfounded and part of a propaganda campaign by certain external circles. The officials stated that there is currently an adequate supply of medicines in the market and that no major problems have been encountered so far, reassuring the public that patients will not face shortages in accessing treatment.

During the meeting, Deputy Minister Hamdullah Zahid highlighted the work of inspection and monitoring teams, saying that efforts would continue to ensure sustained access for all to quality medicines at affordable prices.



## د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ بورډ شلمه ناسته تر سره شوه

دا ناسته چې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ، د وزارت د مرستيالانو او مرکزي رئيسانو په شتون کې ترسره شوه، ترکيې هېواد ته د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، همدارنګه هندوستان او عربي اماراتو ته د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد او مل تخنيکي پلاوي د سفر د موخو او لاسته راوړنو په اړه، چې د يو پريزنټېشن په ترڅ کې تشريح شول، بحث او خبرې تر سره شوې.

سربېره پردې، د بهرنيو ډاکټرانو د اسنادونو او جوازونو ارزونې په موخه د طبي شورا د لوی رئيس ښاغلي ډاکټر فقير محمد زيار کاري راپور وړاندې کول، په 1404 هجري لمريز کال کې د ګمارل شويو کارکوونکو، اجراء شويو احتياطي کوډونو او خالي بستونو په اړه د کارکوونکو چارو لوی رئيس عرفان الله کريمي د راپور ورکول، مسؤليتونو ته د لا زياته پاملرنه، دندو ته پر ټاکلي وخت ،حاضرېدل او لا زياته همغږي د دې ناستې له نورو مهمو موضوعاتو څخه وو چې په اړه يې خبرې وشوې.

د عامې روغتيا ښاغلي وزير، د پورته ذکر شويو موضوعاتو په عملي اجرااتو ټينګار وکړ او لارښوونه يې وکړه، چې ټولې چارې دې په بشپړ شفافيت تر سره او پر ټاکلي وخت او سمه توګه دې ورته رسېدنه وشي.

دغه راز، په دې ناسته کې د عامې روغتيا وزارت مرستيالانو او مرکزي رئيسانو د چارو د ښه والي په موخه خپل نظرونه او وړانديزونه شريک کړل او ژمنه يې وکړه، چې د شويو پرېکړو په برخه کې به لازم اقدامات تر سره کوي.

## نشست دور بیستم بورد رهبری وزارت صحت‌عامه ۱.۱.۱ برگزار شد

این نشست تحت رهبری محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه و با حضور معینان و رئیسان مرکزی این وزارت برگزار گردید.

در این نشست، موضوعاتی ذیل از جمله، هدف و دستاوردهای سفر محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی و تیم تخنیکی همراهش، به کشور ترکیه که توسط یک پرزنتیشن تشریح گردید، هدف و دستاوردهای سفر محترم مولوی حمدالله ذاهد معین غذا و ادویه وزارت صحت‌عامه و تیم تخنیکی همراهش به کشور های هند و امارات متحده عرب که توسط پرزنتیشنی به اشتراک کننده گان تشریح گردید بود.

علاوه بر آن در این نشست، ارایه گزارش محترم داکتر فقیر محمد زیار رییس عمومی شورای طبی، به خاطر ارزیابی اسناد و جواز داکتران خارجی در افغانستان، ارایه گزارش محترم عرفان الله کریمی رییس عمومی امور کارکنان در مورد کارمندانی که استخدام شده، بست های خالی و کود احتیاطی در سال 1404 صورت گرفته است، توجه بیشتر به مسئولیت‌ها، حضور به‌موقع در وظیفه وهماهنگی بیشتر از جمله موضوعاتی مهم دیگری بود که در این نشست مورد بحث قرار گرفت.

محترم وزیر صحت‌عامه، بر اجرای عملی موارد یادشده تأکید نموده و هدایت داد تا تمام امور با شفافیت کامل، در وقت معین و کیفیت بهتر صورت گیرد.

همچنان، در این نشست محترم معینان و رئیسان مرکزی این وزارت، نظریات و پیشنهادات خود را برای بهبود امور ارائه نموده و تعهد نمودند که در راستای تحقق تصمیمات اتخاذ شده، اقدامات لازم را روی‌دست خواهند گرفت

## 20th Leadership Board Meeting of the Ministry of Public Health Held

The 20th leadership board meeting of the Ministry of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan was held under the chairmanship of Minister of Public Health Mawlawi Noor Jalal Jalali, with deputy ministers and senior officials in attendance. During the meeting, official briefings were presented by Deputy Minister for Health Services Mawlawi Abdul Wali Haqqani on his visit to Türkiye, and by Deputy Minister for Food and Drugs Mawlawi Hamdullah Zahid on his visits to India and the United Arab Emirates, focusing on objectives, outcomes, and cooperation.

In another development, the Director of the Medical Council, Dr. Faqir Mohammad Ziyar, reported on the assessment and licensing of foreign doctors. Meanwhile, Human Resources Director General Irfanullah Karimi outlined updates on staff recruitment, contingency measures, and vacant posts for the year 1404.

Addressing the meeting, the Minister of Public Health stressed the need for effective implementation, calling for transparency, accuracy, and timely execution of all decisions.

The meeting concluded with deputy ministers and central directors sharing recommendations and reaffirming their commitment to implement the resolutions aimed at improving overall performance.



## د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزارت له لوري روغتیايي رضاکارانو ته د ټولنې په کچه د روغتیايي کارکونکو د کړنو، ارزونې او هڅونې تر سرلیک لاندې یو ورځنی ورکشاپ ترسره شو

پە دې ورکشاپ کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول لوی رئیس ډاکټر حیدرخان حیدر، د لومړنیو روغتیايي خدمتونو رئیس ډاکټر ذبیح الله حارث، د کورنیو او نړیوالو مؤسسو استازو او روغتیايي رضاکارانو ګډون کړی و ، د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د روغتیايي رضاکارانو د ترسره کړیو فعالیتونو مننه وکړه او ډاډ یې څرګند کړ، چې په نږدې وخت کې به د ټولنې په کچه د روغتیايي خدمتونو بسته نوې او تازه کړي.

ښاغلي مرستیال زیاته کړه: (تېر کال د ټولنې روغتیايي رضاکارانو له څه باندې اووه لس میلیونه کورنیو څخه لیدنې کړې او اختلاطي زیږونونو ته د رسېدنې تر څنګ یې بېلابېل روغتیايي خدمتونه وړاندې کړي).

ښاغلي حقاني دغه راز، له روغتیايي رضاکارانو غوښتنه وکړه، چې د روغتیايي سیستم ښه والي لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

د یاد ورکشاپ وروستیو کې ګډونوالو ته د بېلا بېلو پریزنټېشنونو له لارې ترسره شوي فعالیتونه، لاسته راوړنې او د ظرفیت لوړونې اړوند معلومات وړاندې شول.

## وزارت صحت‌عامه ۱.۱.۱ ورکشاپ یک‌روزه‌ای را تحت عنوان "ارزیابی و تشویق فعالیت‌های کارمندان صحی در سطح جامعه برای رضاکاران صحی" برگزار کرد

در این ورکشاپ، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، داکتر حیدر خان حیدر رئیس عمومی وقایه و کنترول امراض، داکتر ذبیح‌الله حارث رئیس خدمات صحی اولیه، نماینده‌گان نهادهای داخلی و بین‌المللی و رضاکاران صحی اشتراک داشتند.

محترم مولوی عبدالولی حقانی از فعالیت‌های رضاکاران صحی قدردانی نموده اطمینان داد که بسته خدمات صحی در سطح جامعه به‌زودی بازنگری و نو سازی خواهد شد.

همچنان محترم معین عرضه خدمات صحی افزود: «سال گذشته رضاکاران صحی جامعه بیش از 17 میلیون خانواده دیدار نموده و در کنار رسیده‌گی به موارد ولادت‌های پیچیده، خدمات متنوع صحی را نیز ارائه کرده‌اند.

از سوی‌هم، محترم عبدالولی حقانی، از رضاکاران صحی خواست که تلاش های خود را برای بهبود سیستم صحی ادامه دهند.

در بخش پایانی این ورکشاپ، با ارائه پرزنتیشن‌های مختلف، معلوماتی در مورد فعالیت‌های اجرا شده، دستاوردها و موضوعات مربوط به ارتقاء ظرفیت با اشتراک‌کننده‌گان شریک ساخته شد

## The Ministry of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan held a one-day workshop titled Community-Level Performance, Assessment, and Incentivization of Health Workers for health volunteers.

It was attended by Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services; Dr Haider Khan Haider, Director General of Disease Prevention and Control; Dr Zabihullah Haris, Director of Primary Health Services; representatives of national and international organisations; and health volunteers. Deputy Minister Mawlawi Abdul Wali Haqqani thanked the health volunteers for their continued efforts and expressed confidence that they would soon renew and strengthen the community-level health service package.

He said that in the past year, community health volunteers visited more than 17 million families and delivered a wide range of services, including support for complicated childbirth cases. He also called on volunteers to further contribute to strengthening the national health system.

Concluding the workshop, participants received detailed briefings on implemented activities, major achievements, and capacity-building programmes through a series of structured presentations.



## د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئیس، ډاکټر عنایت الله عنایت په خپل کاري دفتر کې د ایمرجنسي روغتون له مسؤلینو سره ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې چې د عامې روغتیا وزارت د مقام مشاورینو (ډاکټر حدیدالله ذاکري او ډاکټر علي احد) د HMIS تخنیکي کارکوونکو، پروفیسور ډاکټر ایمل وردګ او پروفیسور ډاکټر نجیب الله سکندري هم ګډون درلود، د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړولو، د ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ او شته ستونزو حل په موخه بحث او خبرې ترسره شوې.

همدارنګه، د څارنې او پلټنې لوی رئیس، ډاکټر عنایت الله عنایت د یاد روغتون د وضعیت او شته ستونزو په اړه یو جامع پرزنټیشن وړاندې کړ او ګډونوالو هم خپلې مسلکي مشورې او نظرونه شریک کړل.

په پای کې پریکړه وشوه، چې دا ډول ناستې به د لا اغېزمنې همغږۍ او روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه والي په موخه راتلونکې کې هم ترسره شي.

## داکترعنایت الله عنایت رئیس عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه، با مسوولان شفاخانه ایمرجنسی در دفتر کارش دیدار کرد

در این نشست که ( داکتر حدیدالله ذاکری و داکترعلی احد )، مشاورین مقام وزارت صحت‌عامه، کارمندان تخنیکی HMIS، پروفیسور داکتر ایمل وردگ و پروفیسور داکتر نجیب‌الله سکندری نیز اشتراک داشتند، در مورد بهبود کیفیت خدمات صحی، هماهنگی بهتر میان نهادها و حل مشکلات موجود بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

همچنان، داکترعنایت الله عنایت، رئیس عمومی نظارت و بررسی، پرزنتیشن جامعی در مورد وضعیت و مشکلات موجود در این شفاخانه ارائه کرد و اشتراک‌کننده گان نیز نظریات و مشوره‌های مسلکی خود را شریک ساختند.

در پایان، تصمیم گرفته شد که این‌گونه نشست‌ها در آینده نیز به منظور هماهنگی مؤثرتر و بهبود کیفیت خدمات صحی ادامه یابد.

## Dr Enayatullah Enayat Director General of Monitoring and Inspection of MoPH Meets Emergency Hospital Management

The meeting was attended by Dr Hadidullah Zakiri and Dr Ali Ahad, advisers to the Ministry of Public Health, HMIS technical staff, Professor Dr Emal Wardak and Professor Dr Najibullah Sikandari. Discussions focused on improving the quality of healthcare services, strengthening inter-institutional coordination, and addressing existing challenges.

During the session, Dr Enayat delivered a comprehensive presentation on the current situation and challenges facing the hospital. Participants also shared their professional assessments and technical recommendations.

The meeting concluded with an agreement to continue holding similar sessions in the future to enhance coordination and further improve the quality of healthcare services.



## د فراه ولایت د فراهرود ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه

## پروسه آفر گشایی اعمار شفاخانه عمومی ولسوالی فراهرود ولایت فراه برگزار شد

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس استاد محمد یونس غالب، د مالي او حسابي، تدارکاتو او اداري ریاستونو او یو شمېر ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه.
د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس استاد محمد یونس غالب وویل: «دغه پروسه په بشپړه توگه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه گټو پروژه ده او موږ به يې له چارو څخه نظارت هم کوو.
بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به د روغتون د جوړېدو چارې ترسره کوي.
د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت د هېواد په 318 ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو پلان لري، چې د یادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.

این پروسه با حضور، استاد محمد یونس غالب رییس تدارکات وزارت صحت‌عامه، نماینده‌گان ریاست‌های تدارکات، مالی وحسابی، اداری و یک تعداد از نماینده‌گان شرکت های ساختمانی برگزار گردید.
در نشستی که به این مناسبت برگزار شد، استاد محمد یونس غالب رییس تدارکات وزارت صحت‌عامه، گفت: «این پروسه از شفافیت کامل برخوردار بوده و ما از شرکتی که برنده می‌شود خواهان کار بهتر و دقیق به وقت و زمان آن مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه را خواهانیم، چون این پروژه عام المنفعه بوده و ما از جریان کار آن نظارت خواهیم کرد.
از سوی‌هم نماینده‌گان شرکت های ساختمانی، وعده سپردند که در صورت برنده شدن در پروسه آفر گشایی، مطابق معیارات وزارت صحت عامه عمل خواهند کرد.
قابل یاد آوری است که کار پروسه تداركاتی اعمار شفاخانه های عمومی نظر به پلان وزارت صحت‌عامه در 318 ولسوالی کشور ادامه دارد.

## Bid Opening Held for the Construction of a General Hospital in Farah Rod District of Farah Province

The process was conducted in the presence of the Director of Procurement of the Ministry of Public Health, Mohammad Younis Ghalib; representatives from the Finance and Accounting, Procurement and Administrative Affairs Directorates, as well as delegates from several construction companies.

Mohammad Younis Ghalib stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation."

The construction company representatives pledged that, if they take over the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work.

It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.



## د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انسټېټیوټ د مشرتابه او مسؤلینو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

## نشست اداری میان رهبری و مسوولان انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر برگزار شد

په دې ناسته کې د یاد انسټېټیوټ رئیس ډاکټر محمد قاسم عادل، علمي او تدریسي آمر ډاکټر عبدالستار جبارزي، د ولایاتو علمي او تخنیکي آمر ډاکټر محمد اصف شهیدي، مالي او اداري آمر بریال عصمتي او د ناروې کمېټې له لوري د انسټېټیوټ ستر سلاکار ډاکټر میراغا ګلابزي ګډون درلود.

یاده ناسته کې د سنتي طب د ډیپارټمنټ د تشکیل جوړولو، د مصنوعي اندامونو (پروستیټیک او اورتوټیک) درې کلن ازمایښتي پروګرام د تخصصي نرسنګ د تشکیل جوړولو، ICU فعالولو، د 1405 کال لپاره د ولایتي سفرونو، په عمومي تشکیل د بیاکتنې، د لیلیو او اداري څانګو لپاره د اوبو پاکولو ماشینونو نصبولو او د 1405 کال لپاره د مرکز او ولایتي محصلانو د جذب پر موضوعاتو هر اړخیز بحث او خبرې تر سره شوې.

دغه ناسته کې پرېکړه وشوه، چې اړوند آمریتونه دې ذکر شوي موضوعات د عامې روغتیا وزارت له محترم مقام سره شریک کړي او د عملي کېدو لپاره دې لازم اقدامات ترسره کړي.

در این نشست، داکتر محمد قاسم عادل، رئیس این انستتیوت، داکترعبدالستار جبارزی آمر علمی و تدریسی، داکتر محمد آصف شهیدی، آمر علمی و تخنیکی ولایات، بریال عصمتی آمر مالی و اداری و داکتر میر آغا گلاب‌زی مشاور ارشد کمیته ناروی، اشتراک داشتند.

